AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۴/۱۳

# ماشوم له تا سره دی؟

## د ټوپکیانو د نادودو کیسي



څه د پاسه نولس کاله کېږي چي یو شمېر ټوپکیان له عسکري بوټو سره د خلکو پر ستونو او کېډو باندي ولاړ دي او د خپل واک، غصب کړو جایدادونو او شتمنیو د ساتلو له پاره اوس هم هلي ځلي کوي چي د وطن او خلکو د سر او ژوند په بیه په واک او ځواک کي پاتي شي. په همدي ورځو کي د هغي کودتا شومه کلیزه ده چي د یو شمېر ټوپکي ډلو له خوا د ځواک د تر لاسه کولو له پاره د جبل السراج د پریکړي له مخي د ډاکتر نجیب او ملګرو ملتونو د استازي بینین سیوان د پلان پر ضد تر سره شوه.

اوس هم د افغانستان پر ستېژ باندي یو ځل بیا یوه خندونکي ـ ژړونکي ننداره په تکرار سره په نوي بڼه روانه ده چي بیا هماغه ټوپیکان، هماغه لوبغاړي او هماغه څېري، واک او ځواک تر لاسه کړي؛ ښایی د دوی به هېر وي، خو د خلکو نه هېرېږي چي دوی د خپل راتګ له پیل نه، تر نن پوري، پر خلکو باندي څه حالتونه راوستي دي، د خلکو پر ژوند او ککرو باندي یې څنګه چپه مېچني ګرځولي دي. داسي نادودي یې کړي دي چي د بشریت په تاریخ کي ساری نه لري. دوی اوس هم وایي چي موږ خدمتګاران یو او خلکو ته د چوپړ له پاره هلي ځلي کوو.

دلته به یې یوه مستنده بېلګه وړاندي کړم چي تازه له میډیا نه خپره شوي ده. دا بېلګه د ټوپکیانو د زرګونو جنایتونو له ډلي څخه یوه وړه بېلګه ده.

د ټوپکیانو د ظلمونو په لړ کي پر خلکو څه تېر شوي دي، ډېری یې لا نالیکلي، نا ویلي او نا اورېدلي پاتي دي. دغه وړه بېلګه یې ګران دوست انجنیر زهیر شینواري (Engr Zaheer) د دوه زره شلم کال د اپریل پر دیارلسمه په خپله فیسبوکپانه کي له خلکو سره شریکه کړه:»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

## ترخي خاطرې!

نن مي د يوې ميرمنې خبرې په ويډيو بنه اورېدې، چې د ننګرهار محترم والي شاه محمود مياخيل ورسره د يو خبريال په توګه مرکه کوله!

ويل يې:

د تنظيمي جګړو په زمانه کې په توره شپه د کابل په کارته نو سيمه کې له خپل کور نه په داسې حالت کې راووتلو، چې د کابل ښار له يوې برخې نه د احمدشا مسعود او د بلې برخې نه يې د ګلبدين حکمتيار د مرميو باران ورېده. په منډو ـ منډو پلچرخي ته ورسيدو، هلته چې يو څه رڼا ځمکې ته راښکته شوه، نو خپل خاوند راته وويل:

که ډېره ستړې يې نو ماشوم ماته راکړه!

ما په وارخطايي ورته وويل:
وئ! دا ته څه وايې؟

ما خو فکر کاوه چې ماشوم به تا سره وي!

هغه راته وويل:

نه، نه ماشوم ما سره نه شته.

د دې خبرې سره سم مې يو سخته چيغه له خولې ووتله او ورته ومې ويل:

نو بيا خو ماشوم په زانګو کې پاتې شوی.

د دې خبرې سره سم يې موږ ټول په يوه ژوره کنده کې کښينولو او پخپله د مرميو په باران کې بېرته د پلچرخي نه کارته نو ته روان شو.»




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ